# اَسْمَاءُ الْحُسْنٰی

**23-December-2021**



هفته وار د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

د 23 دسمبر، 2021ء د هفته واري اجتماع بيان

# اَسْمَآءُ الْحُسْنٰی

## (د الله پاک ښکلي نومونه)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! د نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ معنیٰ ده ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو. نِيَّت د زړه ارادے ته وائي چې کله هُم جُمات ته د داخليدو سعادت درنصيب شي نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الکريم د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د **اللّٰه** پاک د آخري نبــي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د قيامت په ورځ به د **اللّٰه** پاك د عرش نه سِوا يو سورے هُم نه وي، درې قِسمه خلق به د **اللّٰه** پاك د عرش په سوري كښې وي: ﴿۱﴾ هغه كس څوك چه زما د اُمَّتي پريشاني لرې كړي ﴿۲﴾ زما سُنَّت ژوندي كولو والا او ﴿۳﴾ په ما باندې كثرت سره دُرُود شريف لوستلو والا.[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.(2)

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❀ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوكړئ او نور دا نيتونه اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ د علم زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ د بيان په



1...البدور السافرة، صفحه:170169، حديث:364۔
2...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

www.dawateislami.net

دوران کښېي به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلي اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

یو ځل یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ د **الله** پاك په بارګاه کښې دُعا کوله، هغوئي **الله** پاك داسې یاد کړو: **یَا اللهُ! یا رحمٰنُ!** ابُوجهل کافِر چې دا واوریدل نو د خپلې بے وقوفئ او جهالت په وجه ئې اُووئیل: د **مُحَمَّد** (صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دعوٰی خو دا ده چې هغه د یو خُدائے عبادت کوي، حالانکه دا (د **مُحَمَّد** صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه لوستونکے او د هغوئي صحابي) دوه خدایان یعني یو الله او بل رحمٰن یادوي....!!

د ابُوجهل د دې بے وقوفئ او جهالت په رَدّ کښې **الله** پاك د سیپارهٔ 9، سورهٔ اعراف آیت: 180 نازل کړو،[1] ارشاد دے:

وَ لِلّٰهِ الۡاَسۡمَآءُ الۡحُسۡنٰی فَادۡعُوۡهُ بِهَا ۪ وَ ذَرُوا الَّذِیۡنَ یُلۡحِدُوۡنَ فِیۡۤ اَسۡمَآئِهٖ ؕ سَیُجۡزَوۡنَ مَا کَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۸۰﴾

(پاره:9، سورۃالاعراف:180)

مفهوم ترجمه کنز العرفان: او ډیر ښه نومونه هُم د الله دي نو هغه په دې نومونو یاد کړئ. او هغه خلق پرېږدئ کوم چې د هغه په نومونو کښې د حق نه لرې کیږي، نزدے به هغوئي ته د هغوئي د اعمالو بدله ورکړے شي.

مُفَسِّرینِ کِرام فرمائي: د دې آیتِ کریمه یوه معنٰی دا ده چې هغه ذات



[1] ...تفسیر خازن، پاره:9، سورهٔ اعراف، زیرِ آیت، 180، جلد:2، صفحه:274۔

کوم چې یادولے کیږي یعنې ربتینے خُدائے، حقیقي مالك الله وَحْدَهٗ لَاشَرِیْك صرف یو دے، البته رحمٰن، رحیم، کریم، غَفَّار، سَتَّار وغیره د هُم هغه یو ذات ډیر نومونه دي.[1]

لِهٰذا د ابُوجهل دا وئیل چې مُحَمَّد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي منونکي د یو نه زیات خدایان یادوي، دا د هغه ښکاره جهالت او بے وقوفي ده.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په آیتِ کریمه کښې بیان شوې درې خبرې

اے عاشِقانِ رسول! په دې آیتِ کریمه کښې درې اهمې بنیادي خبرې بیان شوي دي: (1) د الله پاك ډیر اَسْمَاءِ حُسْنٰی (یعنې ښه، او ښکلي نومونه) دي (2) مسلمان دِ الله پاك په دې نومونو یادوي (3) کوم خلق چې د الله پاك د نومونو په مُعامَله کښې د حق نه لرې کیږي، هغوئي د سختې سزا او عذاب حقدار جوړیږي. راځئ چې د دې دریو خبرو مختصر وضاحت واورو:

## (1) د الله پاك ډیر اَسْمَاءِ حُسْنٰی دي

الله پاك فرمائي:

وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰی

(پاره:9،سورةالاعراف:180)

مفهوم ترجمه کنز العرفان: او ډیرښه نومونه هُم د الله دي.



[1] …تفسیر ماتُریدی، پاره:9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:180، جلد:5، صفحه:99ماخوذاً۔

www.dawateislami.net

امام فخرُ الدین رازي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د آیت د دې حِصّے معنٰی دا ده چې اَسْمَاءِ حُسْنٰی (یعنې ښه نومونه) صرف او صرف د **الله** پاك دي، د **الله** پاك نه علاوه که د بل چا نوم ښه دے، هغه د **الله** پاك په عطا او د هغه په احسان سره ښه دے. بیا د دې نه دا هُم ثابته شوه چې د **الله** پاك څومره نومونه دي هغه ټول ښه او ښه دي، یو بد نُوم یا د بدې معنٰی والا کوم نوم نه د **الله** پاك شته او نه کیدے شي. [1]

## خپل نومونه ښه کړدئ...!!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې آیتِ کریمه کښې **الله** پاك خپلو پاکو نومونو ته اَسْمَاءِ حُسْنٰی (یعنې ښه نومونه) وئیلي دي، په دې کښې زمونږ د زده کولو یو مدني ګل دا دے چې مونږه هم خپل او د خپلو بچو ښه ښه، ښکلي او ښائسته نومونه کیږدو. عَلّامه اِبنِ عَرَبـي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: چې کله تاسو ته معلومه شوه چې د الله تعالٰی پاك نومونه ښکلي او ښائسته دي نو بیا تاسو هم خپل نومونه ښه ښه او ښکلي کیږدئ...! [2]

او دا به څنګه کیږي؟ یعني مونږه به خپل او د خپلو بچو نومونه څنګه ښه ښه کیښودے شو؟ عَلّامه اِبنِ عَرَبـي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي چې دا به داسې کیږي چې تاسو خپل او د خپلو بچو نومونه د انبیائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام او اولیائے کرامو عَلَيۡهِمُ الرَّحۡمَه په نومونه کړدئ! [3]



[1]...تفسیر کبیر، پارہ:9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:180، جلد:5، صفحہ:414ملتقطاً۔
[2]...الاسنی فی شرح اسماء الحسنیٰ و صفاتہ، صفحہ:49۔
[3]...الاسنی فی شرح اسماء الحسنیٰ و صفاتہ، صفحہ:49۔

www.dawateislami.net

په حديثِ پاك کښې دي: د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام په نومونو باندې نوم کېږدئ او بيشکه عبدُ الله او عبدُ الرَّحمٰن د **الله** پاك په نِزد ډير خوښ شوي نومونه دي.[1]

## د مُحَمَّد نوم اېښودلو فضيلت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نِيَّت اوکړئ، خپل ذِهن جوړ کړئ بلکه دا عادت جوړ کړئ چې کله هم د نوم اېښودلو موقع راشي نو صرف او صرف نِسبَت والا نوم کېږدئ. عبدُ الله، عبدُ الرَّحمٰن، احمد، **محمَّد** نوم کېږدئ! دغه شان د نورو انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام يا صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضوان او اوليائے کرامو عَلَيۡهِمُ الرَّحمه په نومونو نوم کېږدئ، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! د دې برکتونه به درنصيب شي. ډير خوش قسمته دے هغه انسان کوم چې د **محبوبِ** خُدا، سردارِ انبياء صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بابرکته نوم باندې نوم کيښودې، حضرت امام حَسَن بَصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه روايت کوي: په ورځ د قيامت به **محمد** نوم يو کس د **الله** پاك په بارګاه کښې پيش کړے شي. **الله** پاك به هغه ته اوفرمائي: اے بنده! ستا نوم زما د **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم دے، د دې باوُجود تا ګناه کوله، آيا ته شرميدلې نه؟ هغه به سرښکته کړي او د خپلو ګناهونو اقرار به اوکړي او عرض به اوکړي چې آؤ زما رَبــه! ما ګناهونه کړي دي، بيا به **الله** پاك جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام ته اوفرمائي: اے جبرائيل! زما دا بنده د لاسه اونيسه او جنَّت ته ئې بوځه ځکه چې **محمَّد** نوم والا کس له عذاب ورکولو نه ما ته



[1] ...ابوداؤد، كتاب الادب، باب: في تغيير الاسماء، صفحه:775، حديث:4950۔

www.dawateislami.net

حیا راځي.[1]

| | |
|---|---|
| آنکھوں کا تارا نامِ مُحَمَّد | دِل کا اُجالا نامِ مُحَمَّد |
| شیدا نہ کیوں ہوں اس پر مسلماں | ربّ کو ہے پیارا نامِ مُحَمَّد |
| پائیں مرادیں دونوں جہاں میں | جس نے پُکارا نامِ مُحَمَّد |
| روزِ قیامت میزان و پُل پر | دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد(2) |

## 2. الله پاك د اَسْمَاءِ حُسْنٰی په ذريعه ياد كړئ!

اے عاشِقانِ رسول! د اَسْمَاءِ حُسْنٰی والا آيت كوم چې مونږه واوريدلو، په دې كښې **الله** پاك د اَسْمَاءِ حُسْنٰی ذكر كولو نه پس فرمائي:

فَادْعُوْهُ بِهَا ۪ (پاره:9،سورۃالاعراف:180)

ترجمه كنزُالعرفان: نو هغه په دې نومونو ياد كړئ.

يعنې چې د **الله** پاك ټول نومونه ښه او ښائسته دي نو **الله** پاك هم په دغه ښو ښائسته ښائسته نومونو ياد كړئ! د هُم دې ښو نومونو په ذريعه د **الله** پاك نه دُعا اوغواړئ...![3]

## خپل اندامونه د كار آمد جوړولو طريقه

مشهور مُفسّرِ قرآن، حكيمُ الاُمَّت حضرت مفتی احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ



[1]...الاسنی فی شرح اسماء الحسنیٰ و صفاته، صفحه:5150۔

[2]...قبالۂ بخشش، صفحہ: 133-134۔

[3]...تفسيرِ نعيمی، پاره:9، سورۂ اعراف، زيرِ آيت:180، جلد:9، صفحه:387۔

ﷲِعَلَیۡه فرمائی: د دې (اَسْمَاءِ حُسْنٰى) آيتِ کريمه نه مخکښې آيت کښې د مکے د کافِرو ذِکر دے په هغې کښې بيان شوي دي چې د کافِرو سره زړه خو شته دے خو بےکاره دے ځکه چې د زړه نه د **الله** پاك په نښو غور نه کوي، د کافِرو سترګې شته دے خو بے کاره دي ځکه چې په سترګو د **الله** پاك د قُدرت نښے نه ويني، د کافِرو غوږونه شته دے خو بے کاره دي ځکه چې د غوږونو په ذريعه د حق، د قرآن او د خوږ نبـي (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خبرې نه اوري، بيا په دې آيتِ کريمه کښې **الله** پاك مونږ ته حکم راکړے دے چې: اے مسلمانانو! تاسو خپل زړه، سترګې، غوږونه او خپل اندامونه په کار راتلونکـي جوړ کړئ! او دا به داسې کيږي چې په زړه کښې د **الله** پاك ياد قائم کړئ! د **الله** پاك خوږو خوږو، ښکلو ښکلو، عِزَّت والا نومونو باندې ځان پوهه کړئ! په غوږونو دا نومونه اورئ! او **الله** پاك په دې نومونو سره يادوئ [يعني د دې پاکيزه نومونو په ذريعه د هغه نه مدد غواړئ]! د دې په برکت به ستاسو اندامونه بےکاره نه پاتې کيږي بلکه کارآمد به شي.[1]

## الله پاك د اَسْمَاءِ حُسْنٰى په ذريعه يادوئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! الله** پاك نه د خوږو خوږو، ښکلو ښکلو اَسْمَاءِ حُسْنٰى په ذريعه دُعا غواړئ! ❁ چې کله هم دُعا کوئ نو د اَسْمَاءِ حُسْنٰى په ذريعه **الله** پاك يادوئ: يا الله! ياربِّ! يا رحمٰنُ! يا رحيمُ! ياکريمُ! ياغفَّارُ! يا سَتّارُ وائې ❁ دغه شان چې د **الله** پاك ذِکر کوئ نو هم د دې اَسْمَاءِ حُسْنٰى په



1 ...وسائِلِ بخشش، صفحه:79۔

ذريعه د **الله** پاك ذِكر كوئ ❁ د خبرو په دوران چې **الله** پاك يادوئ نو هم د **اَسْمَاءِ حُسْنٰی** په ذريعه د **الله** پاك ذِكر كوئ، [مَثَلًا داسې وائې چې] زمونږ پروردګار رحمٰن دے، رحيم دے، جَوَّاد دے، كريم دے، حليم دے، غفور دے، **مجيد** دے، سَتَّار دے، رَزَّاق دے، دا ټول د **الله** پاك **اَسْمَاءِ حُسْنٰی** دي، چې كله په خپل مينځ كښې خبرې كوئ نو هم په ډير ادب سره د **الله** پاك ذِكر كوئ مثلاً داسې وائې: الله رحمٰن و رحيم فرمائي، زه د غَفَّار بنده يم، **الله** پاك تَوَّاب [يعني توبه قبلوونكے] دے، غرض دا چې كله هم د **الله** پاك ذِكر كوئ نو د دې **اَسْمَاءِ حُسْنٰی** په ذريعه **الله** پاك يادوئ او د هغه ذِكر كوئ.

## د اَسْمَاءِ حُسْنٰی په بركت سره دُعا قبليږي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** د الله پاك د اَسْمَاءِ حُسْنٰی په ذريعه چې كومه دُعا اوكړے شي هغه قبليږي، په حديثِ پاك كښې دي، د **الله** پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د **الله** پاك 99 نومونه دي، چا چې د دې په ذريعه دُعا اوغوښتله نو **الله** پاك به د هغه دُعا قبوله كړي.[1]

## حضرت عائشه رَضِیَ اللهُ عَنها د اَسْمَاءِ حُسْنٰی په ذريعه دُعا اوكړه

**اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنها فرمائي: ما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې عرض اوكړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ



[1] ...جامع صغير، صفحه:143، حديث:2370۔

وَسَلَّم! ما ته د **الله** پاك هغه بابركته نوم زده كړئ د كوم نوم په ذريعه چې دُعا اوكړے شي نو **الله** پاك ئې قبلوي. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: (اے عائشه!) پاڅه! اودس اوكړه! دوه ركعته نفل ادا كړه! بيا دُعا اوكړه چې زه ئې واورم (يعني چې ته څنګه دُعا كوے). حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنها فرمائي: ما هُم داسې اوكړل (يعني اودس مې اوكړو، دوه ركعته لمونځ مې ادا كړو)، بيا چې كله د دُعا د پاره كښيناستم نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاك په بارګاه كښې دُعا اوكړه:**اَللّٰهُمَّ وَفِّقْهَا** يعنې يا اِلٰهي! عائشه ته د صحيح دُعا غوښتلو توفيق عطا كړې.

**اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنها فرمائي: ما داسې دُعا اوكړه:

**اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْاَلُكَ بِجَمِيعِ اَسْمَائِكَ الْحُسْنَى كُلِّهَا. مَا عَلِمْنَا مِنْهَا وَمَا لَمْ نَعْلَمْ، وَاَسْاَلُكَ بِاسْمِكَ الْعَظِيمِ الْأَعْظَمِ، الْكَبِيرِ الْأَكْبَرِ، وَالَّذِى مَنْ دَعَاكَ بِهِ اَجَبْتَهُ، وَمَنْ سَاَلَكَ بِهِ اَعْطَيْتَهُ**

**ترجمه**: يا **الله** پاكه! ستا **اَسْمَاءِ حُسْنٰى** كوم چې مونږ ته معلوم دي او كوم چې مونږ ته معلوم نه دي، زه ستا د هغه ټولو **اَسْمَاءِ حُسْنٰى** په وسيله سوال كووم او ستا د هغه اِسمِ اعظَم، اِسمِ اكبَر په ذريعه سُوال كووم چې د كوم نوم په ذريعه دُعا اوكړے شي نو ته ئې قبلوے او ستا نه چې كوم سُوال اوكړے شي ته ئې عطا كوے.

د **اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنها دا ښائسته دُعا ئې چې واوريدله نو د **الله** پاك خوږ نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:

اَصَبْتِهٖ اَصَبْتِهٖ يعنې اے عائشه! تا صحيح دُعا اوغوښتله.[1]

## د څلورم اسمان فرښتے ئې مدد اوکړو

صحابئ رسول حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہ عَنْہُ فرمائي: د سُلطانِ دوجهان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو صحابي رَضِیَ اللہ عَنْہُ چې ډير مُتَّقـي او پرهيزګاره وو، هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْہُ به تجارت کولو او خپل مال به ئې د يو ملك نه بل ملك ته او يو ښار نه بل ښار ته وړلو، يو ځل هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْہُ د تجارت سامان واخستلو، چې کله يو ځنګل ته اورسيدلو نو ناڅاپه د اوسپنې زره اغوستې او توره په لاس يو ډاکو مخے له ورغے، او هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْہُ ئې اودرولو، او اوئې وئيل: خپل ټول سامان ما ته حواله کړه او د قتل د پاره تيار شه! دا ئې چې واوريدل نو هغه صحابي رَضِیَ اللہ عَنْہُ اوفرمائيل: تا ته زما مال پکار دے، زما ټول مال واخله او ما پريږده، چې ما قتل کړې نو تا ته به څه فائده حاصله شي؟ ډاکو اووئيل: زه به ستا مال اخلم خو تا به هم ضرور قتل کووم.

ډاکو دا اُووئيل او د حمله کولو د پاره ورمخکښې شو نو هغه صحابي اوفرمائيل: که تا ضرور زما د قتل کولو اراده کړي وي نو ما ته لږ مهلت راکړه چې زه د خپل ربّ په بارګاه کښې سجده اوکړم. ډاکو اووئيل: چې څه کوے زر زر ئې اوکړه، زه به تا ضرور قتل کووم. نو هغه صحابي رَضِیَ اللہ عَنْہُ اودس اوکړو، څلور رکعته نفل ئې ادا کړل، بيا ئې د سجدے په حالت کښې د **الله** پاك په بارګاه کښې داسې دُعا اوکړه:



[1] ...الاسماء والصفات، صفحه:13۔

يَا وَدُوْدُ! يَا ذَاالْعَرْشِ الْمَجِيْدِ! يَا فَعَّالُ لِّمَا يُرِيْدُ! اَسْئَلُکَ بِعِزِّکَ الَّذِیْ لَا يُرَامُ وَمُلْکِ الَّذِیْ لَايُضَامُ، بِنُوْرِکَ الَّذِیْ مَلَأَ اَرْکَانَ عَرْشِکَ اَنْ تَکْفِيَنِیْ شَرَّ هٰذَا اللِّصِّ، يَا مُغِيْثُ اَغِثْنِیْ! يَا مُغِيْثُ اَغِثْنِیْ! يَا مُغِيْثُ اَغِثْنِیْ!

**ترجمه**: اے وَدُوده! اے د عرشِ مجيد مالکه! اے هغه ذاته کوم چې هميشه څه غواړي کوي ئې، ستا د عِزَّت څه انتِها نشته، زه تا ته ستا د عِزَّت وسيله پيش کووم، اے د داسې بادشاهئ مالکه! په چا چې څوك زور نه شي راوستے؟ هغه نُور د کوم په ذريعه چې ستا عرش روښانه دے، زه تا ته ستا د هغه نُور وسيله پيش کووم، اے زما ربّه ما د دې ډاکو د شر نه **محفوظه** کړې. اے مدد کوونکيه، اے مدد کوونکيه، اے مدد کوونکيه.

هغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنهُ په ډيره عاجزئ و اِنکسارئ درې ځله دغه شان دُعا اوکړه، د دُعا نه لا فارغه شوے نه وو چې ناڅاپه يو صاحِب په اَس سور، نيزه په لاس ظاهِر شو او په يو ګُزار کښې ئې هغه ډاکو قتل کړو. بيا هغه په اس سور کس د صحابي رَضِیَ اللہُ عَنهُ خوا له راغلو. صحابي رَضِیَ اللہُ عَنهُ هغه راتلونکي نه تپوس اوکړو: اے عظيمه انسانه! نن تاسو په دې مُصِيبَت کښې زما مدد اوکړو، تاسو څوك ئې؟ هغه سور کس اووئيل: زه د **الله** پاك يوه فرښته يم او د څلورم اسمان نه ستا د مدد د پاره راغلے يم.

صحابيِ رسول حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنهُفرمائي: څوک چې اودس اوکړي او څلور رکعته نفل ادا کړي بيا د دې کلماتو په ذريعه دُعا اوکړي د کومو کلماتو په ذريعه چې هغه صحابي دُعا غوښتې وه نو د هغه دُعا به قبوله

کړے شي.[1]

| | |
|---|---|
| هر صحابئ نبی! جنتي جنتي | تولي صحابياتي هُم! جنّتي جنّتي |
| څلور ياران د نبی! جنّتي جنّتي | حضرت صِدّيق هُم! جنّتي جنّتي |
| او عمر فاروق هُم! جنّتي جنّتي | عثمانِ غنی! جنّتي جنّتي |
| فاطمه او علی! جنّتي جنّتي | حَسَن او حُسَين هُم! جنّتي جنّتي |
| والدين د نبی! جنّتي جنّتي | هره زوجهٔ نبی! جنّتي جنّتي |
| حضرتِ معاويه! جنّتي جنّتي | او ابوسُفيان هُم! جنّتي جنّتي |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشِقانِ رسول!** د صحابهٔ کرامو اوچت شان و عظمت اوګورئ چې هغه صحابي د اَسْمَاءِ حُسْنٰی په ذريعه دُعا اوکړه نو د څلورم آسمان فرښته د هغه د مدد د پاره راغله. سُبْحٰنَ اللّٰه! سُبْحٰنَ اللّٰه!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له پکار دي چې مونږه هم دا عادت جوړ کړو چې کله هم څه مشکل پيښ شي، پريشاني شي، تنګدستي راشي، بيماري راشي، قرض داري وغيره وي نو د **الله** پاك په بارګاه کښې د هغه د اَسْمَاءِ حُسْنٰی په ذريعه دُعا اوغواړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! **الله** پاك به زمونږه هُم د زړه مرادونه پوره کړي.

## د اَسْمَاءِ حُسْنٰی برکتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** څنګه چې د اَسْمَاءِ حُسْنٰی په برکت

323

[1]...موسوعة الامام ابن ابي الدنيا، کتاب: مجابي الدعوة، جلد:2، صفحه:323322، حديث:23۔

دُعاګانې قبليږي، دغسې د اَسْمَاءِ حُسْنٰی نور هم برکتونه دي، د مختلفو مسائلو او مشکلاتو وغيره د حل د پاره د اَسْمَاءِ حُسْنٰی وِرد هم کيږي، د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ”40 رُوحاني علاج“ ده، په دې رساله کښې ئې د اَسْمَاءِ حُسْنٰی اوراد و وظائف ليکلي دي، دغه شان د اَمِيرِ اهلسنّت کتاب ”مَدَني پنج سُورَه“ کښې صفحه 246 نه 259 پورې د 99 اَسْمَاءِ حُسْنٰی آسان او مختصر مختصر اَوراد و وظائف ليکلي شوي دي مَثَلًا ❁ څوك چې د هر لمَانځه نه پس 100 ځله يَا اَللّٰهُ لولي، د هغه باطن به فراخه شي ❁ څوك چې د هر لمَانځه نه پس 7 ځله هُوَ اللّٰهُ الرَّحِيْم لولي، هغه به د شيطان نه په حفاظت کښې اوسي او د هغه آخره خاتمه به په اِيمان کيږي ❁ کوم غريب کس چې هره ورځ 90 ځله يَا مَلِكُ لولي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د غريبئ نه به خلاصے اوموي، دغه شان مختصر مختصر 99 روحاني علاجونه په ”مَدَني پنج سُورَه“ کښې ليك دي. مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه مَدَني پنج سُورَه واخلئ، کور ئې کيږدئ، لولئ ئې او برکتونه حاصل کړئ! اللّٰه پاك دِ مونږ ټولو ته توفيق را عطا کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 3- د اَسْمَاءِ حُسْنٰی مُتَعَلِّق د حق نه لرې کيدونکي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د سورۀ اعراف د اَسْمَاءِ حُسْنٰی والا آيتِ کريمه کښې دويم حکم مونږ ته دا راکړے شوے دے:

وَ ذَرُوا الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ فِیْۤ اَسْمَآىٕهٖؕ سَیُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ(۱۸۰) (پاره:9،سورةالاعراف:180)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او پرېږده هغه خلق کوم چې د هغه په نومونو کښې د حق نه لرې وځي، نزدے ده چې هغوئي ته به د هغوئي د اعمالو بدله ورکړے شي.

د آیتِ کریمه د دې حِصّے یو مطلب دا دے چې هغه خلق کوم چې د **الله** پاك د نومونو په باره کښې د حق نه لرې وځي، د هغوئي ملګرتیا مه کوه! د هغوئي نه لرې اوسه! نِزدے ده چې **الله** پاك به هغوئي ته د هغوئي د کړو سزا ورکوي. [1]

## د الله پاك په نومونو کښې اِلحاد څه دے؟

**اے عاشِقانِ رسول!** د **الله** پاك د ښو ښو، ښکلو ښکلو پاکو نومونو په مُعامَله کښې اِلحاد یعني حق نه د لرې کیدو ډیر صورتونه دي مَثَلاً ❁ د **الله** پاك په شان کښې داسې لفظ وئيل کوم چې د هغه د شان و عظمت لائق نه وي، لکه بعضې کافر **الله** پاك ته مَعَاذَ اللهِ! اَبٌ (یعني پلار) وائي، فلسفیان **الله** پاك ته مَبْدَءِ فَیْض وائي، دا په اَسْمَآءِ حُسْنٰی کښې اِلحاد [یعني د حق نه لرې کیدل] دي ❁ دغه شان هغه الفاظ چې معنٰی ئې صحیح ده خو د **الله** پاك په شان کښې د هغه الفاظو استعمال بےادبي ده، داسې لفظ د **الله** پاك په شان کښې استعمالول هم په اَسْمَآءِ حُسْنٰی کښې اِلحاد دے. د مثال په



[1] ...تفسیر بیضاوی، پاره:9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:180، جلد:4، صفحه:336۔

www.dawateislami.net

طور **الله** پاك ته **خَالِقِ خِنۡزِيۡر** (يعني خنزير پيدا كولو والا) وئيل. حالانكه يقيناً خنزير **الله** پاك پيدا كړے دے خو په دې الفاظو سره **الله** پاك يادول بےادبي ده. ❁ دغه شان هغه الفاظ چې د هغې معانې ښے هم دي او بدې هم دي، د **الله** پاك په شان كښې د هغه الفاظو استعمال هم منع دے: مثَلاً **الله** پاك ته **شَافِی** (شِفَا وركولو والا) خو وئيلے شي خو **طبيب** ورته نه شي وئيلے ځكه چې طبيب پيشه ور ډاكټر ته وائي، ډير خلق **الله** پاك ته **الله ميان** وائي، د لفظِ **ميان** ډيرې معانې دي، د دې يوه معنٰى د ښځې خاوَند هُم ده، په دې وجه **الله** پاك ته **ميان** وئيل صحيح نه دي [خير پښتو كښې خو څوك **ميان** نه وائي خو په اُردُو او د پاک و هِند په بعضو نورو ژبو كښې د دې استعمال شته دے].[1] په تفسير صِراطُ الجِنان كښې دي: د **الله** پاك هغه پاك نومونه كوم چې د **الله** پاك سره خاص دي، هغه مبارك نومونه د مخلوق د پاره استعمالول هم په **اِلۡحَادۡ فِي الۡاَسۡمَاء** كښې شامِل دي: لكه د چا **رَحۡمٰن، قُدُّوس، قَدِيۡر** وغيره نوم ايښودل.[2]

نن صبا په مُعاشره كښې د نوم ايښودلو او يو بل ته د آواز كولو په مُعامله كښې د ډيرې بےاحتياطئ نه كار اخستے كيږي. بعضې ناپوهه خلق د علمِ دِين د كمې په وجه د خپلو بچو نوم "**رَحۡمٰن**" كيږدي، دا صحيح نه دي، د دې په ځائے **عَبۡدُ الرَّحۡمٰن** نوم ايښودل پكار دي. دغه شان دا غلط انداز هم ډيره عام دے چې د چا نوم **عَبۡدُ الرَّحۡمٰن** دے هغه ته صرف د **رَحۡمٰن** په



[1] ...تفسيرِ نعيمی، پاره:9، سورهٔ اعراف، زيرِ آيت:180، جلد:9، صفحه:388ماخوذاً۔

[2] ...تفسيرِ صراط الجنان، پاره:9، سورهٔ اعراف، زيرِ آيت:180، جلد:3، صفحه:481۔

www.dawateislami.net

نُوم آواز کوي دا هم حرام دي، د دې نه بچ کيدل لازِمي دي.[1]

هميشه ياد ساتئ چې د **الله** پاك ټول نومونه **تَوقِيۡفِي** دي يعني كوم اسماء چې په قرآنِ كريم كښې راغلي دي، په حديثِ پاك كښې بيان شوي دي، شريعت مُقَرَّر كړي دي، **الله** پاك په هُم هغه نومونو يادوئ، هيڅ څوك د خپل طرف نه د **الله** پاك يو نوم هُم نه شي ايښودے.[2]

**الله** پاك دِ مونږ ته د علمِ دِين زده كولو او په هغې باندې د عمل كولو توفيق راعطا كړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيۡن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د 99 اَسۡمَاءِ حُسۡنٰی يادولو فضيلت

په بُخاري شريف كښې حديثِ پاك دے، خوږ آقا مكّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: اِنَّ لِلّٰهِ تِسۡعَةً وَّتِسۡعِيۡنَ اَسۡمَآءً مِائَةً غَيۡرَ وَاحِدٍ مَنۡ اَحۡصَاهَا دَخَلَ الۡجَنَّةَ بيشكه د **الله** پاك يو كم سل نومونه دي، چا چې دا ياد كړل، هغه جَنَّت ته داخل شو.[3]

علمائے كرام فرمائي: د **الله** پاك ټول اَسۡمَاءِ حُسۡنٰی 99 نه دي بلكه هغه خو بيشميره دي، په دې حديثِ پاك كښې د **الله** پاك د هغه 99 اَسۡمَاءِ حُسۡنٰی

323

1 …تفسيرِ صراط الجنان، پاره:9، سورۂ اعراف، زيرِ آيت:180، جلد:3، صفحه:481۔
2 …تفسيرِ نعيمی، پاره:9، سورۂ اعراف، زيرِ آيت:180، جلد:9، صفحه:388ماخوذاً۔
3 …بخاری، كتاب:الشروط، صفحه:710، حديث:2736۔

ذِکر دے کوم چې یادول د جَنَّتـي کیدو ذریعه ده. **حکيمُ الاُمَّت** حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه د دې حدیثِ پاك لاندې لیکي: کوم مسلمان چې دا نومونه یاد کړي او هره ورځ د دې وِرد [وظیفه] کوي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! هغه به د شروع نه جنَّت ته ځي.[1]

سُبْحٰنَ الـلّٰه! څومره ښکلے فضیلت دے...!! تقریباً د قرآنِ کریم د هرې نُسخے په شروع کښې عام طور د **الله** پاك 99 نومونه لیك وي، د هغې نه ئې یادولے شئ، که مونږه هره ورځ 10 اَسْمَآءِ حُسْنٰى یاد کړو نو صرف په لسو ورځو کښې به راته پوره یاد شي او که **الله** پاك اوغواړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم د دې په برکت به جنَّت ته داخلیدل رانصیب شي.

## اَسْمَاءِ حُسْنٰى د معرفتِ اِلٰهي ذریعه ده

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د **الله** پاك د مبارکو اَسْمَاءِ حُسْنٰى د برکتونو نه یو برکت دا هم دے چې اَسْمَاءِ حُسْنٰى د **الله** پاك د معرفت (یعنې پیژندګلو) حاصلولو ذریعه ده. **حُجَّةُ الْاِسْلَام** امام محمد بن محمد غزالی رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: په دې دُنیا کښې د **الله** پاك د معرفت حاصلولو یوه لاره ده او هغه دا ده چې بنده د **الله** پاك د اَسْمَاءِ حُسْنٰى او د هغه جَلَّشَانُهٗ د صِفاتو مَعرفت حاصل

[1]...بخاری، کتاب:الشروط، صفحه:710، حدیث:2736۔



www.dawateislami.net

کړي. [1] بلکه علمائے کرام فرمائي: **الله** پاك چې کوم بنده د ولایت د پاره منتَخَب کوي او هغه ته د عِلمِ لَدُنِّی عطا کولو اراده کوي نو هغه ته د ټولو نه اوَّل د 99 اَسْمَاءِ حُسْنٰی عِلم ورکړي. [2]

اِمام ابو قاسِم قُشَیرِی رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم بنده چې د **الله** پاك د اَسْمَاءِ حُسْنٰی معرفت حاصل کړي، **الله**پاك په دُنیاو آخرت کښې د هغه نوم اوچتوي [یعني روښانه کړي]. [3]

**الله** پاك دِ مونږ ته هم د خپلو اَسْمَاءِ حُسنیٰ معرفت رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دوو اَسْمَاءِ حُسْنٰی وضاحت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې د **الله** پاك د اَسْمَاءِ حُسْنٰی نه د دوو نومونو د وضاحت اوریدلو سعادت حاصل کړو:

## د الله پاك يو ښکلے نوم اَلْحَكِيْمُ

د **الله** پاك د اَسْمَاءِ حُسنیٰ نه يو پاکيزه نوم **اَلْحَكِيْمُ** دے، د دې معنٰی ده: هغه



1 …المقصدُ الْاَسْنیٰ، صفحه:53۔
2 …اَلْاَسْنیٰ فِی شرح اَسْماءِ الحسنیٰ، صفحه:80۔
3 …شرح اَسْمَاءِ اللهِ الحسنیٰ، صفحه:22۔

www.dawateislami.net

پاك ذات د چا چې هر فرمان، هر كار د حكمت والا دے.[1]

د **اللّٰه** پاك د دې ښكلي نوم **اَلْحَكِيْمُ** نه معلومه شوه چې د **اللّٰه** پاك په هر كار كښې په زرګاؤ حكمتونه وي ❁ **اللّٰه** پاك اسمان اوچت ساتلے دے ❁ زمكه ئې د ښپو لاندې خوره كړې ده، دا د هغه حكمت دے ❁ لمَر ئې تود كړے دے ❁ د سپوږمۍ رنړا ئې يخه ساتلې ده، دا د هغه حكمت دے ❁ شپه ئې تياره كړې ده ❁ ورځ ئې روښانه كړې ده ❁ څوك ئې مالدار او ❁ څوك ئې غريب ساتلے دے ❁ څوك تندرست دے ❁ څوك بيمار دے ❁ چا ته ئې سل كاله ژوند وركړے دے ❁ څوك ئې په ځوانۍ كښې مړ كړے دے ❁ چا ته ځامن وركوي ❁ چا ته صرف لونړه وركوي ❁ څوك بےاولاده ساتي، دا ټول د هغه حكمتونه دي، لِهٰذا د **اللّٰه** پاك د دې پاك نوم **اَلْحَكِيْمُ** معرفت دا دے چې بنده د زړه نه د دې خبرې يقين اوساتي چې كه زما عقل پرې رسي او كه نه، البته د **اللّٰه** پاك په هر كار كښې په زرګاؤ حكمتونه دي.

## اللّٰه پاك چې څه كوي، ښه كوي

د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه د 413 صفحو كتاب **عُيُوْنُ الحكايات (حصہ:اول)، صفحہ:187** كښې ليك دي: د **اللّٰه** پاك يو نيك بنده په ځنګل كښې اوسيدلو، د هغه نيك انسان سره يو چرګ (يعني بانګي)، يو خر او يو سپے وو، بانګي به سحر



[1] ...اَلْاَسْمَاء وَالصِّفَات للبيهقي، صفحه:32۔

www.dawateislami.net

وختي هغه د لمَانځه د پاره رابيداررولو، په خر به ئې اوبه او نور سامان راوړلو، او سپي به ئې د مال اسباب او نورو څيزونو حفاظت کولو. يوه ورځ داسې اوشو چې د هغه بانګي ګيدړ اوخوړو، د کور کسان په دې نقصان ډير خفه شو خو هغه نيك سړي صبر اوکړو، او اوئې وئيل: **الله چې څه کوي ښه کوي**. يو څو ورځې پس ئې خر شرمښانو مات کړو، د کور خلق ډير خفه شو خو هغه نيك سړي هم دا اووئيل: **الله چې څه کوي ښه کوي**. څه ورځې پس سپے ناجوړه شو او هغه هم مړ شو، خو هغه صابر و شاکِر انسان بيا هم هغه الفاظ اووئيل: **الله چې څه کوي ښه کوي**. څه ورځې پس دُښمنانو د هغه ځنګل په آبادئ باندې د شپے حمله اوکړه، دُښمنانو د ځناورو د آوازونو په ذريعه د خلقو د کورونو ځايونه معلوم کړل، بيا ئې هغه ټول د هغوئې د مال و اسباب سره قيد کړل او ځان سره ئې بوتلل. د هغه نيك سړي په کور کښې يو څاورے هم نه وو چې آواز ئې کړے وے. لِـهٰذا دُښمن ته د شپے په تياره کښې د هغه د کور پته اونه لګيدله او دغه شان د هغه ټول سامان بالکل محفوظه پاتې شو، او د ناڅاپه راتلونکې مصيبت نه هم بچ شو.

معلومه شوه چې د **الله** پاك په هر كار كښې څه نه څه حِکمت ضرور وي. خو مونږه د هغه په حکمت نه پوهيږو، دا زمونږ د عقل قُصور دے.

بهرحال! د **الله** پاك په كارونو كښې څه څه حکمتونه دي؟ په هغې

مونږه په خپل ناقِص عقل نه شو پوهيدے. مونږ له پکار دي چې **الله** پاك **اَلۡحَكِيۡمُ** اومنو او په هغه باندې پوخ يقين اوساتو. **الله** پاك دِ د عمل كولو توفيق راكړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نوم مبارك اَلۡحَكِيۡمُ د معرفت فائدے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** **الله** پاك دِ په مونږ ټولو باندې رحم اوفرمائي، نن صبا خلق ورځ په ورځ د علمِ دِين نه لرې كيږي ❁ خلق ناشُكري كوي ❁ كه مسلسل غمونه، پريشانئ، مصيبتونه راشي نو **مَعَاذَالله!** د **الله** پاك نه ګيله كوي ❁ په خپل قِسمَت ژاړي ❁ بعض جاهلان خو **مَعَاذَالله!** په **الله** پاك باندې اعتراض كوي حالانكه **په الله پاك باندې اعتراض كول كفر دے،** په **الله** پاك باندې د اعتراض كولو په وجه بنده د اسلام نه خارج شي [يعني كافر شي][1] ❁ دغه شان بعضې د عقل نه خلاص خلق داسې هم دي چې **مَعَاذَالله!** **الله** پاك له مشورے وركوي، مَثَلًا **الله** پاك داسې ولے اوكړل؟ دا څيز خو داسې نه وو پكار وغيره وغيره

(اَسۡتَغۡفِرُ اللهَ! اَسۡتَغۡفِرُ اللهَ!) **اے عاشِقانِ رسول!** غور اوكړئ! خومره



[1] ...كفريه كلمات كے بارے ميں سوال جواب، صفحه:141۔

ناپوهتیا ده...! علمائے کرام فرمائي: څوك چې په **الله** پاك باندې د اعتراض کولو په وجه اووائي چې **الله** پاك د سحر لمُونځ ډېر زر مقرر کړے دے، **دا هم كَلِمَهٔ كفر ده.** [1] افسوس! خلق احساس نه کوي، بس ژبه ئې چليږي، او اودريږي نه، که په ژبه ئې کِيلے راشي، که ردې بدې اُووائي، که کفريه خبرې اوکړي خو خبر هُم نه وي چې دا زه څه وايم. **الله** پاك دِ زمونږ د ټولو د اِيمان حفاظت اوکړي.

**اے عاشِقانِ رسول!** د اِيمان د حِفاظت فِکر پيدا کولو او د کفريه کلماتو په باره کښې د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه كتاب "**کفریہ کلمات کے بارے میں سُوال وجواب**" د مکتبةُ المَدينه نه طلب کړئ، او په ډېره توجه سره ئې اولولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د علمِ دِين ډېرې قيمتي خزانے به په لاس درشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** که مونږه د الله پاک په دې مبارك نوم اَلْحَكِيْمُ باندې ځان پوهه کړو، د دې معنٰى او مفهوم په خپل ذِهن کښې کښينوو، په دې باندې غور و فِکر کوو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دې په



[1] ...کفریہ کلمات کے بارے میں سُوال جواب، صفحه:177۔

برکت به په **الله** پاك باندې د اعتراض کولو نه بچ شو، ځکه چې د چا دا ذِهن جوړ شي چې **الله** پاك څه کوي په هغې کښې زرګاؤ حکمتونه وي، نو ښکاره خبره ده چې بيا به انسان اعتراض ولے کوي. دغه شان که مونږه د **الله** پاك دې مبارك نوم **اَلْحَکِيْمُ** باندې پوهه شو نو زمونږ د ژوند ډېرې مسئلے به حل شي، مثلاً ❁ د دې نوم **اَلْحَکِيْمُ** په برکت به صبر کول آسان شي، که څه پريشاني، مصيبَت، درد، غم، بيماري، تنګدستي راشي نو ذِهن به مو جوړ وي چې! **الله** پاك حکيم دے، ضرور به په دې پريشانئ، مصيبت، غم وغيره کښې د هغه څه نه څه حکمت وي ❁ که غريب سړے يو مالداره کس اووينې نو خفه کيږي دِ نه بلکه خپل دا ذِهن دِ جوړ کړي چې **الله** پاك دا مالدار جوړ کړے دے، زه ئې غريب جوړ کړے يم، يقيناً په دې کښې به څه حکمت وي ❁ مالدار سړے که يو غريب اووينې نو په تَکَبُّر کښې دِ نه اخته کيږي بلکه يقين دِ ساتي چې **الله** پاك ما له مال و دولت راکړے دے، او دا ئې غريب جوړ کړے دے، په دې کښې به ضرور څه حکمت وي ❁ څوک چې بےاولاده وي، هغوئې دِ پريشانه کيږي نه، د **الله** پاك په دې مبارك نوم **اَلْحَکِيْمُ** باندې دِ يقين اوساتي ❁ څوك چې د محنت باوُجود په امتحان کښې ناکامه شي، هغه دِ خود کُشي نه کوي، د **الله** پاك په نوم **اَلْحَکِيْمُ** دِ يقين ساتي. که مونږه داسې د **الله** پاك په دې ښکلي نوم **اَلْحَکِيْمُ**

باندې پوهه شو او په خپل ژوند کښې ئې نافِذ کړو نو د دې په برکت زموږ د ژوند ډېرې مسئلې حل کېدے شي.

**الله** پاك دِ موږ ټولو ته د اِيمان خوږ والے را نصيب کړي، او د علمِ دِين د دولت نه دِ موږ ټول مالا مال کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د الله پاک پاکيزه نُوم: اَلْغَنِىُّ

د الله پاک په اَسْمَاءِ حُسنیٰ کښې يو پاکيزه نوم: اَلْغَنِىُّ دے. د دې معنیٰ ده: بے نيازه [بے پرواه]. چې هغه د هيڅ چا هُم **محتاجه** نه وي.[1] د الله پاک د دې پاکيزه نوم اَلْغَنِىُّ نه معلومه شوه چې الله پاک هغه پاک ذات دے چې ټول د هغه **محتاجه** دي خو هغه د هيڅ چا **مُحتاجه** نه دے.

## الله تعالیٰ ته محتاجه وئيل کُفر دے

افسوس! عِلمِ دِين نه د لرې والي په وجه بعضې نادانه خلق د **الله** طرف ته د **مُحتاجۍ** نسبت هُم کوي مَثَلًا ❁ که يو نيک کس وفات شي نو وائي: نيکو خلقو ته د **الله** ضرورت وي [ځکه ئې ځان ته اُوغوښتو] ❁ که وړوکے ماشوم وفات شي نو بعضې تَعزِيَّت کوونکي وائي: ستا د گُل په شان بچے به د الله پاک پکار وو.[2] ❁ دغسې نورې کُفريه کلمات هُم وئيلے کيږي. ياد



1...المقصدُ الْاَسْنٰی، صفحه:128۔

2...کفریہ کلمات کے بارے میں سُوال جواب، صفحہ: 489-490۔

ساتئ **اللہ** پاک ته محتاجه [یعني حاجت مند] وئیل کُفر دے.

**اللہ** پاک په قرآن کریم کښې اِرشاد فرمائي:

**یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللّٰهِۚ وَ اللّٰهُ هُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیْدُ(۱۵)** (پارہ:22، سورۂ فاطِر:15)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے خلقو! تاسو ټول د اللہ مُحتاجه ئې او صرف **اللہ** بے نیازه دے، په ټولو ستائنو ستائیلے شوے.

## اللہ بے نیازه دے

اے عاشقانِ رَسُول! د اللہ پاک په دې پاکیزه نُوم **اَلْغَنِیُّ** غور اوکړئ، د دې معنٰی، مفهوم په زړه کښې کښینوئ! چې **اللہ** پاک بے پرواه دے ❁ څوک چې د څان ښه ګڼړلو په آفت کښې ګرفتار دي ❁ که څوک په خپل عِلم ناز کوي ❁ که څوک په عقل او دانائي ناز کوي ❁ که څوک په خپلو نیکو ناز کوي او د **اللہ** پاک بے نیازي ئې هیره کړي وي ❁ که څوک په خپل مال و دولت ناز کوي ❁ که څوک په خپل خاندان کښې څان د ټولو نه اوچت ګڼړي او خپلو خویندو وروڼړو او نورو خپلوانو سره تَعَلُّقات پریږدي ❁ که څوک غرور او تَکَبُّر کوي ❁ په خلقو ظُلم کوي ❁ رشوتونه اخلي ❁ ښکاره ګناهونه کوي یا ❁ د خلقو نه په پټه د **اللہ** پاک نافرمانئ کوي، دا ټول دِ غور اوکړي چې **اللہ** پاک بے نیازه [بے پرواه] دے، هغه که اُوغواړي نو غریب مالدار کړي او مالدار غریب کړي، د کبرژونو کبر په خاورو کښې ګډ کړي،

که رحم اُوفرمائي نو بیشمره ګنهګار جَنَّت ته داخل کړي او که عدل اوکړي نو غټ غټ نیکان به په لړزان شي، هغه مالِک دے د هیڅ چا محتاجه نه دے، ټول د هغه مُحتاجه دي، لِهٰذا مونږ ته پکار دي چې هر وخت د **الله** پاک د بے نیازئ نه په ویره کښې اُوسیږو.

## فقیر ئې اورټو نو پخپله فقیر شو

شیخ سَعْدي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نقل کوي چې یو نیک سړے وو، هغه له **الله** پاک ډیر مال و دولت هُم ورکړے وو، هغه د مالدارئ سره سره ډیر همدرد، نرم زړه لرونکے او سخي هُم وو، د غریبانو فقیرانو مدد کولو باندې به د هغه زړه ډیر زیات شحالیدلو، هُم دا وجه وه چې د هغه په دروازه به هر وخت د فقیرانو، غریبانو ګڼړه وه، یو ځل د شپې یو فقیر د هغه د دروازے مخې ته آواز اوکړو، هغه مالدار سړي خپل یو غلام اولیږو چې لاړ شه او د هغه فقیر ضرورت پوره کړه- غلام چې دروازه بیرته کړه او ځنګه ئې په فقیر نظر پریوتو نو د خُلې نه ئې یوه چغه اُووتله او بے اختیاره ئې د سترګو نه اُوښکې رواني شوې، غُلام چې [بیرته راغلو او] هغه مالدار سړي خفه اولیدو نو د وجهې تپوس ئې ترینه اوکړو، غلام عرض اوکړو: محترمه! ستاسو غلامئ کښې راتلو نه مخکښې زه د یو مالدار سړي په غُلامئ کښې ووم، هغه هُم ډیر مالدار وو، یو ځل د هغه په دروازه یو فقیر خیرات اُوغوښتو، هغه مالدار کس د هغه فقیر د مدد کولو په ځائے د مال و دولت په نشه کښې هغه فقیر ډیر ذلیله کړو او د غلامانو په ذریعه ئې هغه فقیر په ډِیکو ډِیکو اوشړو. بس د هغه ورځې نه پس د هغه

مالدار سړي بدې ورځې شروع شوے، په لږه موده کښې ئې حال سخت خراب شو، سخته محتاجۍ، تنګدستۍ او غریبۍ کښې اخته شو، خپلوانو او دوستانو ورسره تعلقات پرېښودل. اے زما آقا! اوس چې کوم فقیر راغلے وو، دا هُم هغه زما پخوانے مالِک وو، ما چې د هغه دا حالت اولیدو نو د خُلې نه مې چغه اوختله او د سترګو مې اوښکې رواني شوې. د غلام دا تهولې خبرې ئې چې واورېدلې نو هغه نیک مالدار سړي اُووئیل: آیا زه تا ته د دې نه هُم زیاته د حیرانتیا خبره اُونکړم---! هغه فقیر چې ستا پخواني مالک په دیکو دیکو شړلے وو، هغه فقیر بل څوک نه وو بلکه زه ووم، نن اوګوره! چې وخت حالات څومره بدل کړل چې قدرت هغه راوستو او زما دروازے ته ئې خیرات غوښتلو د پاره اُودرولو.[1]

## د الله پاک د پټ تدبِیر نه اُوېَرېږئ

اے **عاشقانِ رَسُول!** د **الله** پاک په دې پاکیزه نُوم **اَلْغَنِیُّ** باندې غور اوکړئ! په دې کښې د خوفِ خُدا درس هُم دے، **الله** پاک بے نیازه دے، که هغه اوغواړي نو زمونږه یوه نیکي به په خپله بارګاه کښې قبوله کړي او بیړۍ به مو پورې وځي، او که **الله** پاک اُوغواړي نو صرف په یوه ګُناه به مو اونیسي او د جَهنَّم حقدار به مو اوګرځوي، بس مونږ ته هر وخت د **الله** پاک د پټ تدبیر نه ویریدل پکار دي، **الله** پاک ډېر بے نیازه دے، که چا ته د لمونځونو توفیق نصیب شو نو هُم د هغه له طرفه دے، که د روژو نیولو توفیق ورنصیب شو نو



1 . . . بُوستانِ سعدی، باب دُوُم، صفحه: 80۔

هُم د هغه له طرفه دے، که دا لـمونځونه او روژے قبولې نه شوې نو زمونږ به څه حال وي؟ ځکه هر وخت عاجزي اختيارول پکار دي، **اللّٰه** پاک نه د هغه د رحمت سوال کول پکار دي، **اللّٰه** پاک دِ د خپل رحمت په خاطر، د خپل خوږ محبوب **رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر زمونږه دُنيا هم ښائسته کړي او زمونږ آخرت دِ هُم ښائسته کړي. **اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

اے عاشقانِ رَسُول! مونږه د الله پاک د 99 **اَسْمَاءِ حُسنیٰ** نه صرف د دوه **اَسْمَاءِ حُسنیٰ** مختصر شان وضاحت واوريدو. سوچ اوکړئ چې په دې پاکيزه **اَسْمَاءِ حُسنیٰ** کښې د علم و حکمت څنګه څنګه بے بها ملغلرې پټې دي، که مونږه 99 **اَسْمَاءِ حُسنیٰ** ياد کړو، د هغې په معنو ځان پوهه کړو، د هغې د معرفت حاصلولو کوشش اوکړو نو څومره برکتونه به رانصيب شي؟ لِـهٰذا مونږ ته پکار ده چې **اَسْمَاءِ حُسنیٰ** ياد کړو او د دې عِلم هُم زده کړو. البته دا خيال ساتئ چې د **اللّٰه** پاک په **اَسْمَاءِ حُسنیٰ** کښې د **اللّٰه** پاک د ذات او صفاتو بيان دے او د دې تَعَلُّق د عقائدو سره دے، لِـهٰذا د کوم ماهر عاشقِ رَسُول عالِـمِ دِين نه **اَسْمَاءِ حُسنیٰ** زده کول پکار دي، په خپله اندازه باندې زده کول، هسې د يو او بل نه اوريدلو خبرو باندې عمل کول خطرناک کيدے شي. الله پاک دِ مونږ ته د عِلمِ دِين نُور عطا کړي او د عمل توفيق دِ هُم رانصيب کړي- **اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 12 ديني کارونو کښې يو دِيني کار: مَدَني قَافِله

اے **عاشقانِ رَسُول**! نيک جوړيدلو، د ګناهونو نه بچ کيدلو او د دې په ذريعه د **اللّٰه** پاک د **مَحبَّت** حاصلولو د کوشش کولو د پاره عاشقانِ رَسُول سره په **مَدَني قَافِلو** کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ، د دې په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيْم د **عاشِقانِ رَسُول** صُحبت حاصل کړئ، عِلمِ دِين زده کول به درنصيب شي، د نيکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدلو ذِهن به مو جوړ شي او د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې د سُنَّتِ انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام يعني د نيکۍ دعوت عام کولو موقع به درنصيب شي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! تبليغِ دِين د پاره په ټوله دُنيا کښې د سُنتو پيغام عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي بيشميره اسلامي ورونړه په مدني قافلو کښې سَفَر کوي- تاسو هُم هِمَّت اوکړئ او د مدني قافلو مُسَافِر جوړ شئ او ډير ډير ثوابونه اُوګټئ! اَلْحَمْدُ لِلّٰه اوس خو موقع هُم ده، په 25 دسمبر هُم سرکاری سطح باندې چهټي وي، او د اتوار په ورځ هُم چهټي وي، ډيره ښه موقع ده، 24،25،26 دسمبر جمعه، هفته، اتوار د 3 ورځو مدني قافله کښې سفر اوکړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيْم ډير ډير برکتونه به درنصيب شي. راځئ چې د مَدَني قافلے يو سپرلے واورو.

## شرابي، مؤَذِّن جوړ شو

د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زه د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول ته راتلو نه مخکښې په ګناهونو کښې اخته ووم، شراب څښل، د مور و پلار

زړه آزارَوَل او لـمونځونه قضا کول زما معمول وو، يو ځل يو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي ما ته مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، ما ټال مټول کولو خو هغه هِمَّت اُونه بيلو او مسلسل ئې دعوت راکولو، آخر زه يو ځل د 3 ورځو د مَدَني قافلے مسافر جوړ شوم، د مَدَني قافلے په دوران کښې د نيکئ دعوت او د سُنَّتو ډکو بيانونو اوريدلو موقع په لاس راغله، ورسره ورسره راته د شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا **محمد اِلياس عطَّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مختلفې رسالے لوستل هُم نصيب شو، بس د دې ټولو خيزونو په ما داسې اثر اوشو چې په زړه کښې مې انقلاب راغلو، ما د ګناهونو نه رښتيني او پخه توبه اوکړه، شراب څښل مې پريښودل، لـمونځونه کول مې شروع کړل او د مور و پلار فرمانبردار جوړ شوم، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مَدَني قافلے په بَرَکت مې ګِيره پريښوده، د عِمامے شريفې تاج مې په سر کړو، اوس زه په يو جُمات کښې مُـؤَذِّن يم او اَلْحَمْدُلِلّٰه پينځه وخته لـمونځ جَمعې سره د ادا کولو سعادت حاصلووم۔[1]

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (2)



1...شرابی مؤذن کیسے بنا؟، صفحه:15۔

2...ابنِ عساکر ج۹ ص ۳۴۳

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا

جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د لاس ملاوولو سُنَّتونه او آداب

❁فرمانِ آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چې کله دوه مسلمانان د ملاقات په دوران کښې مُصافَحه کوي [یعنې لاسونه ملاو کړي] او یو بل نه د خیریت تپوس کوي نو **الله** پاک د هغه دواړو په مینځ کښې 100 رحمتونه نازلوي چې په هغې کښې 99 رحمتونه په ګرم جوشۍ سره د ملاقات کوونکي او په ښه طریقه د خپل ورور د خیریت تپوس کوونکي د پاره وي. (المُعجَمُ الاوسط للطبرانی ج٥ ص٣٨٠ حدیث٧٦٧٢)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** لاس ملاوولو ته په عربۍ کښې مُصافَحه وائي ❁ د دوو مسلمانانو د مُلاقات په وخت کښې په دواړو لاسو مُصافَحه کول یعنې دواړه لاسونه د یو بل په لاسونو کښې ورکول سُنَّت دي. ❁ لاس ملاوولو نه مخکښې سلام اوکړئ ❁ دَ رُخصَت کیدو په وخت کښې هم سلام کوئ او (ورسره ورسره) لاس هم ملاوولے شئ.❁ چې کله دوه دوستان په خپل مینځ کښې ملاقات کوي او **مُصَافَحه** کوي او په نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شریف لوَلي نو د هغه دواړو د جُدا کیدو نه مخکښې مخکښې د دواړو تیر شوي او راروان ګناهونه اوبخښلے شي." ❁ د لاس ملاوولو په وخت کښې **درود شریف** لولئ، که کیدے شي دا دُعا هم لولئ: "**يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ**" (یعني الله تعالٰی دِ زمونږه او ستاسو بخښنه اوکړي) ❁ دوه مسلمانان چې د

لاس ورکولو په وخت کښې څه دُعا غواړي اِنْ شَآءَاللّٰه **قَبوله** به شي او د لاسونو جدا کيدو نه مخکښې مخکښې به د دواړو بخښنه اوشي.❁ په خپل مينځ کښې د مُصَافَحه کولو په وجه دُښمني ختميږي. ❁ فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: کوم مسلمان چې د خپل وړور سره مُصَافَحه اوکړي او د يو په زړه کښې د بل سره عَداوَت [يعني دُښمني] نه وي نو د لاسو جُدا کيدلو نه به مخکښې **الله** تعالٰی د دواړو تير شوي ګناهونه معاف کړي او څوك چې خپل مسلمان وړور ته د مَحَبَّت نه ډك نظر باندې اوګوري او د هغه په زړه يا سينه کښې دُښمني نه وي نو د نظر اَړَولو نه مخکښې مخکښې به د دواړو تير شوي ګناهونه اوبخښلے شي❁ چې څو ځله ملاقات کيږي هر ځل مُصَافَحه کولے شيءِ.❁ د دواړو طرف نه يو يو لاس ورکول سُنَّت نه دي، مُصَافَحه په دواړو لاسو کول سُنَّت دي. ❁ بعضې خلق د يو بل د ګوتو سره صرف ګوتې اولګوي دا هُم سُنَّت نه دي.❁ د لاس ورکولو نه پس خپل لاس ښځپله ښکُلَول مکروه دي. خو که د يو بُزُرګ سره مصافحه کولو نه پس ئې د برکت حاصلولو د پاره خپل لاس ښُکل کړو نو کراهت نشته. ❁ د **مُصَافَحه** کولو سُنَّت دا دي چې په لاس کښې رومال وغيره نه وي، دواړه لاسونه تش وي او ورغوے د ورغوي سره لګيدل پکار دي. (1)

مختلف سُنَّتونه او آداب زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 100 صفحو کتاب 550 323

[1] 550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 32-34۔

سُنَّتیں اور آداب واخلئ او اولولئ ئې. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قَافِلو کښې عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هُم دے.

زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
اوګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے زمونږه خوږه **اللّٰه** پاکه! مونږ ته اخلاص سره د عمل کولو توفيق رانصيب کړې." اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د

داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ



1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

www.dawateislami.net

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ**

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

**اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ**

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود



1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

www.dawateislami.net

شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1...الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2...مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵

www.dawateislami.net